## د عبدالرحمن بابا په ادبي مکتب کې د تاریخي کیسو څېړنه

پوهنمل تاج محمد رحیمي

Summary:

Stories are a natural necessity of life and of human society. If anyone wants or doesn’t want, the stories are being heard, written and told. In the poetical sea of Rahman Baba, the pearl of stories are seen and must be identified. Rahman Baba is a poet of Pashtun tribe who has put the pain and problems of his society in his Diwan (a complex book of poetry). The content of my work is about the poetry of Sufi poet Abdul Rahman Baba. Abdul Rahman Baba as a Muslim Gnostic and learned guide poet, the source from which this inspiration is derived is the Greatest Holy Quran, which draws a line between the facetiae and the “ Ahsan-al-Qusas ”.

**لنډیز:** کیسه د ژوند او بشري ټولنې یوه طبعي اړتیا ده.که څوک وغواړي که ونه غواړي کیسې اورې،کیسې لیکې او کیسې وایي. د رحمن بابا په شاعرانه سمندر کې د کیسو مرغلرې لیدل کیږي او په ګوته کول یې اړین کار دی. رحمن بابا د پښتون قوم هغه شاعر دی،چې د خپلې ټولنې درد او ستونزې یې په خپل دیوان کې ځای کړي دي.زما د کار مواد د صوفي شاعر عبدالرحمن بابا شاعري ده. عبدالرحمن بابا د یوه لاربښود شاعر او مسلمان عارف په توګه دغه الهام چې له کومې سرچینې اخیستی،هغه عظیم الشان قران دی،چې د((احسن القصص)) په نامه د هزلیاتو تر منځ کرښه کش کوي. او یو له بله یې بېلوي.

**کاریدونکي ویې:** کیسه،دیوان،اسلام،رحمن بابا،یوسف(ع)

**سریزه :** د کیسې اورېدل،لیکل ،لوستل د انسانانو یوه طبعي او فطري غوښتنه ده.بشري ټولنې ته خپلې کارنامې او ناخوالې د کېسو په بڼه پاتې دي.د ادم (ع) د پیدایښت نه راپدیخوا څه چې مونږ ته راپاتې دي، ټول یې د کیسو بڼه لري. همدارنګه د اسلام قانون قرانکریم هم موږ ته ډېرې پخوانۍ کیسې د عبرت په توګه راوړي دي.تاریخ د یو منل شوي علم په توګه پر کیسو ولاړ دی،ځکه خو ویل کیږي،چې فولکلور د یو ملت نالیکلی تاریخ دی.ادب،چې له ټولنې پرته یې هیڅ تصور هم نه شي کېدای په حقیقي او افسانوي کیسو ولاړ دی، ان تر دې چې د ادبیاتو یو نوی ډول له داستانونو جوړ دی.په لیکلي پښتو ادب کې د تاریخي کیسو پیلامه د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري له قصیدو سرچینه اخلي له دوی رادېخوا نورو شاعرانو دغه چاره نوره هم ګړندۍ کړې ده.په دې برخه کې عبدالرحمن بابا هم غلی نه دی پاتې شوی او ډېرې کیسې یې په خپل دیوان کې خوندي کړي دي.په دې لیکنه کې به لوستونکي د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې د کیسو په اړه معلومات پیدا کړي او له بله پلوه به دا هم ورته څرګنده شي، چې عبدالرحمن بابا څومره پراخ معلومات لري، چې د اشعارو په کوزه کې یې د کیسو سمندر هم ځای کړی دی.

Ketabton.com

### اصلي موضوع

**د رحمن بابا پېژندنه:** عبدالرحمن بابا په ۱۰٤۲ هجري قمري کال د پېښور ښار په جنوبي اړخ کې پروت بهادر کلي کې سترګې نړۍ ته پرانیستې وې. پلار یې عبدالستار د مومندو پښتنې قبیلې ته منسوب وو.( ۱ : ۱ ).

رحمن بابا د پښتو شعر او ادب هغه ځلانده او روښانه ستوری دی چې د لرې او برې پښتونخوا خلک یې یو شان پېژني.د رحمن بابا د درناوي لپاره به همدا کافي وي چې د ټولو پښتنو له خوا ورته ((بابا)) ویل کیږي او هر کال لر او بر پښتانه د ده په ویاړ مشاعرې جوړوي. ( ٥ : ۲٤۲ ).

**کیسه څه ته وایي؟**: کېسه یو روایت دی، یا د یوې پېښې بیانول دي که ریښتیاوي او که خیال او که انساني غوښتنه وي کېسه یوه سمبال شوې هڅه او غوښتنه ده.انساني هېلې دي.کېسې د ژوند د نړۍ یوه برخه ده په دې هکله شکسپیر وایي ( هغه څه چې طبیعت سمبالوي یا بدلوي یو هنر دی ،خو په خپله هنر طبیعت دی.) ګویټه وایي (یو هنري اثر هماغومره د طبیعت اثر دی چې غرونه دي.) د ګویټه له خبرو معلومیږي لکه څومره چې غرونه د طبیعت په ښکلا کې رول لوبوي همد شان هنر هم د طبیعت د ښکلا یوه وسیله ده. په کیسه کې د ژوند د یوې برخې دیو حالت د یوې پېښې تحلیل او د لیکونکي برداشت شتون لري. د ادبي فنونو له مخې په شعر کې د کیسو یادونه د تلمیح په نوم یادیږي.(٤ : ۸٤ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو غربي لیکوال ایډل مند نبیر په وینا د کیسي اورولو او اوریدلو هیله او غوښتنه هغه ځانګړنه ده چې د انسان په خټه کې اخښل شوې ده له همدې امله ده چې د بشري تاریخ په اوږدو کې د کیسو بېلابېل ډولونه رامنځته شوي او نن یې پرمختګ کړی دی.(۹ : ۳۸ ).

**د عبدالرحمن بابا په دیوان کې دتاریخي کیسو ځرکونه**

د رحمن بابا په دیوان کې د کیسو ډېر ځرکونه لیدل کېږي. نوموړي په خپل دیوان کې د جمال خان د غمیزې او تاریخي کیسې په اړه ذکر کړی دی.د رحمن بابا د ژوند په وروستیو کلونو کې د مومندو په قبیله کې د یوې خطرناکې دښمنۍ،د پردو په لاس راولاړشوې تربګنی د خونړیو پېښو او د یوې تاریخي غمیزې ښکارشوه او رحمن بابا له دې پېښې د یوه سترګور انسان په توګه متاثر شو او د احساس اوښکې یې پرې تویې کړې.

دلته مخکې له دې چې د رحمن باباتاثرات وړاندې کړو لومړی به همدې غمیزې ته یوه لنډه کتنه وکړو.د مغولي پاچا اورنګزیب تر مړیني وروسته (۱۱۱۸ ه ق) جمال مومند چې د مومندو د یوې کمزورې تپې مشر وو د ځینې نورو کسانو په ملتیا په شورش لاس پورې کړ او غرض یې دا و چې د دې شورش په وسیله به د ده نوم مشهور شي او د دې شهرت له امله به اربابي ورته وسپارل شي ځکه مغولو تر دې وړاندې هم خپل اکثر دښمنان او شورشیان د خپلو سیمو جاګیرداران ټاکلي وو او په دې وسیله یې ځیني شورشونه او بې امني له منځه وړې وې.(۳ : ۱۳۳ ).

د جمال خان منصوبه هم کامیابه شوه او کله چې په ۱۱۲۲ ه ق د کابل د دارالملک ( چې پېښور هم ورسره تړلی و) صوبه دار ناصر خان وټاکل شو،پېښورته چې راغی اربابي یې جمال خان ته ورکړه.ده خپلو ناکردو ته دوام ورکړ،ناصر خان ته د ده سوابق او موجوده وضع ټول معلوم وو،د اربابی په وخت کې یې د عیسی مومند کلي وواهه،دی د مومندو د یوه زورور خېل ماشوخېلو څخه و،تر دې پېښې وروسته عیسی مومند هم له ناصر خان سره جوړه وکړه.(۳ : ۱۳٤ )

بله قرینه دا هم ده چې عیسی مومند د ناصر خان تر صوبداری وړاندې له پېښور نه لاهور ته فرار شوی و او دا هم ښیې چې ده به د مغولو په وړاندې څه کړي وو او ناصر خان به د غچ اخیستلو له پاره جمال خان د ده د کور لوټلو ته هڅولی وي.تر دې پېښې وروسته( ۱۱۲۳ ه ق) کال د جمال خان د زوی د واده کار پېښ شو ناصرخان دوه زره روپۍ هم انعام ورکړې او د واده کار تیارشو.داسې ښکاري چې اوس جمال خان هم یو لوی قوت ګرځیدلی و د مغلو ترې وېره کېده او وهل یې په کار وو.د افضل خان په روایت عیسی مومند د مغولو لپاره ځری ورپسې کړ،ده د زوی د واده په شپه له لښکر سره روان شو،په کور یې ورغی،جمال چې غافلګیر شوی و د جګړې هیڅ تهیه یې نه درلوده،بیا هم مخې ته وروروت د جګړې تاب یې رانه ووړ. زخمي کور ته ننوت،عیسی یې په کور اور پورې کړ. دی په خپله او د واده اتیا کسه نران ،ښځې،ماشومان هم په هغه کور کې وروسره وسوځېدل.(۳ : ۱۳۵ ).

له دې پېښې نه رحمن بابا برداشت او له دې پېښې سره د رحمن بابا برخورد په بشپړ ډول انساني،عاطفي،سیاسي او مادي اړخونو څخه ځېړي او د خپلې انسان دوستانه او په معنویت ولاړې عقیدې له مخې نتیجه ترې اخلي.د ده بیان او برداشت قدم په قدم په وړاندې ځي او د موضوع بېلابېلې خواوې روښانوي.

ډېر یاران وو د ګل خان او جمال خان
په کار نه شو یو په وخت د زارستان
د همه واړو یارانو مخ دې تورشي
که به ځوک وبله یاري کا په دا شان ( ۲ : ۱٤۳ )

د بوللې په دې تشبیب کې د بې وفا یارانو د ابن الوقت دوستانو او د ښې ورځې د ورځ چارو ملګرو غندنه کوي. له دې ډول پښتني او انساني ضد عمل نه کرکه ښیي او دا ډول کار له پښتو او پښتونولی نه لرې بولي. بل ځای کې وایي:

هیڅ تعریف یې په دا ژبه وایه نه شي
صد رحمت شه په یاری هم د ګل خان
چې په اور کې یو دبل له پاره سوځي
ما لیدلي نه وو هسې مخلصان ( ۲ : ۱٤٥ )

د بوللې په دې برخه کې استثنی کوي او د ګل خان پخه او رښتیني یاري چې د یاری حق یې ادا کړی ستایي او آفرین پرې وایي. د پېښې عاطفي اړخ ، نوع او ډول ته توجه کوي او د آل او اولاد سوځول چې غېر انساني او حتی د جنګ د شرطونو مخالف عمل دی په ژوره عاطفي ډول غندي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له  اله  له اولاده سره وسول
خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان

رحمن بابا د دې غميزې او ماتم د درنښت له پاره پيښه د نمرود له جنايت سره چې ابراهيم (ع) يې په اور کې سوځولی وو تشبيه کوي او وايي:

د نمرود چارې مې وليدې په سترګو
چې يې اچول و اور وته نبيان (۲ : ۱٤۵)

دا غميزه دومره سخته او درنه ده، چې رحمن بابا د قيامت سره ورته ښودلې ده او وايي:

خلک وايي چې قيامت به په جمعه وي
وليد ما په يکشنبه په دا دوران
هزار حيف دی چې دا هسې رنګ چارې
واقع کېږي د دنيا په سود او زيان
سربند نه و ګويا دښت د کربلا و
چې سېلاب شو د سرو وينو پرې روان ( ۳ : ۱٤۷ )

بيا د يو سپين زړي او معتقد مومن په حيث دا ټول نفس او د شيطان چارې او د تقدير ليک ګڼي لکه چې وايي:

په عيسي او په جمال کې ګناه نشته
دا مکرونه دي د نفس او د شيطان
عزيزان يې خپله ووژل په خپله
دا همه واړه تقدير دی د سبحان ( ۳ : ۱٤۷ )

بيا د شاهانو د داسې کړو د ثبوت له پاره د يوه ځير مشاهد او تاريخپوه په حيث نمونې وړاندې کوي او د خپل وخت له پېښنو نه يې د تاريخ لېرې پوړيو او پېړيو ته رسوي.

شاه عالم اعظم وګوره چې يې سخا کړ
په خونونو واړه ملک د هندوستان
ودارا او اورنګزيب وته حيران يم
چې يې څه چارې واقع شولې ترميان (۳ : ۱٤۸ )

په لنډه ويلی شو چې د جمال خان پيښه چې د پښتنو يوه لويه غميزه وه او په لسګونو انسانان په کې ووژل شو د رحمن بابا په ديوان کې دې پېښې ته په هر اړخيز ه توګه ليدل شوي او د تاريخ پاڼو ته يې د شعر په ژبه سپارلې دي.

د رحمن بابا په ديوان کې ډېرو کېسو ته اشاره شوې، په دې برخه کې به د رحمن بابا له ديوانه ځينې بيتونو راټول او بحث به پرې وکړو چې د کېسو يادونه په کې شوي وي.

رحمن بابا په خپل يو شعر کې چې دلته يې يو بيت راخلو د حضرت سليمان (ع)پاچاهی ته اشاره کړې ده او د هغه مرتبه يې بيان کړې ده. ويل کېږي، چې حضرت سليمان (ع) ته الله (ج) دومره لويه مرتبه ورکړې وه چې تخت به يې په هوا ګرځېده او هر چېرته به يې چې زړه غوښتل هلته تللی شو .د دې ترڅنګ د ټولو حيواناتواو پيريانو په خبرو هم پوهېده، چې دا مرتبه يې هيڅ بل پيغمبر ته نه وه ورکړې،نو دلته رحمن بابا د حضرت سليمان(ع) مرتبې ته اشاره کړې ده او هغه څوک يې بختور ګڼلی چې الله ج ورته لوړه مرتبه ورکړې وي. لکه چې وايي:

مرتبه د سليمان چې چاله ورشي
هيڅ پوره نيمګړی نه دی په رنګين ( ۱ : ٦۹ )

په يو بل ځای کې د حضرت يعقوب (ع) د زوی حضرت يوسف (ع) تاريخي کېسې ته اشاره کوي.کيسه داسې ده،چې کله د حضرت يوسف (ع)  خبر حضرت يعقوب (ع)  ته راغظ چې زوی يې د مصر پاچا شوی او ژوندی دی يعقوب (ع)  ډېر خوشحاله شو او د سترګو ديد او نظر يې بېرته پيدا شو،چې همدې کيسې ته رحمن بابا په لاندې بيت کې اشاره کړې  او وايي چې:

چې قاصد د ورک يوسف زيرى پرې وکا
د يعقوب د سترګو بيا نظر پيدا شه ( ۱ : ۹۲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو بل شـعر کې رحمن بابا د عشـق او محبت په اړه د خپل زړه خبره کوي.د همدې شـعر په اخري بیت کې بیا د منصور د عشق او دار ذکر هم کوي په لاندې بیت کې د منصور هغې کېسې ته اشاره شوې ده چې کله هغې د خدای په مینه کې ځان دومره غرق او ورک کړ، چې له خولې یې د اناالحق خبره ووته، نو د وخت پاچا هغه په دار کړ او د دار په سـر یې هم همدا یوه خبره له خولې ووتله. لکه چې وایي:

گوره د منصور هسې په دار نه شي رحمانه
مکړه دا د عشق خبرې مستې رندانه ( ۱ : ۱۰۱ )

رحمن بابا په یو بل شعر کې د مجنون کېسې ته اشاره کړې ده چې وایي:

زه لکه مجنون ولاړ په طمعه د لیلا مې
اوس به لیلی راشي پر سپین مخ زلفې شانه ( ۱ : ۱۰۱ )

په یوه بل شعر کې رحمن بابا دقارون تاریخي کېسې ته اشاره کوي.د قارون کېسه په قران کریم کې هم یاده شوې او اشاره ورته شوې ده. لاندې بیت کې د قارون کېسه ده، چې د هغې په اړه ویل کېږي چې خدای ج ډېر زیات مال او دولت ورکړی وو،ډېر ظالم او مغروره انسان وو او د خدای ج له اوامرو څخه یې سرغړونه کوله.په مال او دولت ډېر مین وو. الله (ج) موقعه ورکړه تر دې، چې ټول مال او دولت یې ورته په سـر کېښـود او ځمکې ته یې امر وکړ چې د ټول مال سـره یې کش کړي.

معشوقه مشفقه بویه مهربانه
نه قارون چې په ځان اسم د حاتم ږدي ( ۱ : ۱۱۲ )

رحمن بابا په خپل دیوان کې ډېرو تاریخي کېسو ته اشـاره کړې ده. په یو بل بیت کې رحمن بابا د سـلطان محمود غزنوي او ایاز کېســـه کړې ده. ویل کېږي چې سـلطان محمود غزنوي په خپل دربار کې یو تکړه،هوښـیار او ځوان مشـــاور او وزیر درلود، چې ایاز نومېده.تل به یې د محمود سره همکاري کوله تل به یې له ایاز څخه مشوره اخیستله،نو رحمن بابا دې تاریخي کېسې تا اشاره کړې او په خپل شعر کې یاده کړې ده. لکه چې وایي:

سپین رخسار و مشکین خال دې وبله صنم دي
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دي ( ٦ : ١٨ )

په ځینو بیتونو کې رحمن بابا د یوسف (ع) او زلیخا تاریخي او اسلامي کېسې ته اشاره کړې ده.د یوسف (ع) او زلیخا کېسه ډېره مشهوره ده.زلیخا، چې د مصر د بادشاه میرمن وه او هیڅ کله د خپل خاوند سره نه وه یوځای شوې کله، چې یوسف(ع) مصر ته رسېږي او د مصر په بازار کې وپلورل شي ، د مصر د عزیز کور ته راوړل شي له هماغه وخته پرې زلیخا میینه شـي او تل کوښښ کوي، چې یوسف (ع) وگوري په دې برخه کې زلیخا ډېرې ستونزې او مشـکلات گالي ان تر دې پورې، چې د سترگو نور یې ختم شي.لکه چې وایي:

که لیدلي زلیخا یوسف په خوب و
ما په ویښه دی لیدلی په خواب نه دی ( ۱ : ۱۱۹ )
زلیخا غوندې به بله شیدا نه وي
که د مصر مستورې شي واړه ټولې ( ۱ : ١٤٤ )
ما په هجر کې لذت د وصال بیاموند
له یوسفه ملاقي شوم په زندان کې ( ۱ : ١٤٤ )
د هغو چې خدای حق بیني سترگې ورکړې
د یوسف تجلی ویني په دیوار کې ( ۱ : ١٤٤ )
و عیب جن ته واړه عیب ځرگندیږي
ښایسته که ځان یوسف کا په سینگار کې ( ۱ : ١٤٤ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمن بابا په خپل دیوان کي یوې بلې تاریخي کیسې ته هم اشاره کړې ده چې هغه د نوشېروان پاچا کیسه ده.د نوشیروان پاچا کیسه په عدالت راڅرخي . ویل کیږي چې یو عادل او مهربانه پاچا وو.همدې کیسې ته په لاندې بیت کي اشاره کوي او خلک انصاف او عمل ته رابولي.

په انصاف په عدالت نوشیروان شی
هر عمل به د خپل ځان په ترازو کړې ( ١ : ١٤٤ )

همدارنګه د سکندر مقدوني کیسې ته هم د رحمن بابا په دیوان کي اشاره شوې ده. یونان په (٥ ق م پیړۍ) کي د ایران په یرغلونو او جګړو اخته وو او په(٤ ق م) کي د فلیپ مقدوني باد شاه له خوا ونیول شو.یو کال وروسته فلیپ ووژل شو او د هغه ځوان ځوی د هغه په ځای کېناست.دا ځوان یو قارندوکی او مبارز چې د ارسطو شاګرد وو او په زړه کي یې د قهرمانی او د ملک ګېرۍ هوس هم وو په (٣٣٤ ق م) کي د دېرش زره پیاده او څلور زره سورو عسکرو سره چې د څلوېښتو ورځو خوراک یې هم درلوده د ایران په خامنشي دولت یې یرغل وکړ.په دریو جنګونو کي چې په وړه اسیا،د اسکندریه د خلیج په غاړه او په کردستان او اوسنۍ ترکیه کي وشو ایراني فوځونو ته یې ماتې ورکړه او ورپسې ورغی. سکندر نیولي لوی ملکونه د اباسیند نه تر بحر اراتیک او د مصر نه تر قفقازه پورې د یونان د قدرت طلبه سردارانو په لاس ورغلل او د نړۍ ډېره برخه یې لاندې کړه.( ٨ : ٥٤ ).

رحمن بابا د سکندر د کیسې په راوړلو څخه موخه د خپل ځېلي ملت فکر او عمل ته رابلل دي،چې د غفلت له خوبه بیدار شي او ترقي وکړي.

د سکندر په څېر جهان به در څرګند شي
که سرکوز په آیینه د خپل زانو کړې ( ١ : ١٢٩ )

همدارنګه رحمن بابا په خپل یو شعر کي د فرعون یادونه کړې ده (فرعون د ملک ریان نمسی او د پلار نوم یې مصعب وو او دا روایت هم شوی دی چې د ده د پلار نامه مصعب ولید بن ریان وو.د ده عمر څلور سوه کاله وو په دې دومره عمر کي د ده سر هم نه و په درد شوی.او نه ورباندې کوم دښمن کامیاب شوی وو.
په اخر کي یې د خدایي دعوی هم وکړه،نو په دې وجه ورته فرعون ویل کیږي،د دې دعوی نه مخکې ښه تندرست او صحت مند وو خو چې کله یې د خدایی دعوه وکړه ،نو وجود یې د قسماقسم بیماریو مرکز شو.تر دې پورې چې د ده په وجود کي دوه اویا ناروغۍ راپیدا شوې او د مرضونو ښکار شو.) ( ٧ : ٣١٤)

تا چې خپل مخ د فرعون په دود تور کړ
په دې خوی به برابر نه شي له نېکبوه ( ١ : ١٦٥ )

رحمن بابا په یو بل بیت کي د حاتم طايي یادونه هم کړې ده .د حاتم کیسه داسې ده چې هغه په ترکیه کي یو ډېر سخي او مهربانه انسان وو او په عربو کي د ډېر شهرت خاوند هم وو. څه یې چې لرل په خلکو به یې تقسیم ول.د نوموړي د سخاوت کیسې او چرچې په ټولو ملکونو کي خورې وې.هر طرف به د حاتم خبرې کېدلې په اوس وخت کي هم کله چې څوک سخاوت کوي ،نو په مقابل کي ورته د حاتم خطاب کیږي،نو همدې کیسې ته یې په لاندې بیت کي داسې اشاره کړې ده
د حاتم په څېر دې ستایي
خطابه درکا سخا ( ١ : ٣ )

رحمن بابا په خپل دیوان کي د افلاطون او مجنون کیسي یادونه هم کړې ده. افلاطون د یونان یو تکړه او پوه انسان وو.د نوموړي له نظریاتو اوس هم په مختلفو علومو کي ګټه اخیستل کیږي او مجنون هم په عشق کي دومره ډوب وو چې تر ننه یې خلک یادوي همدې دواړو کیسو ته رحمن بابا په لاندې بیت کي یې کتلی شو.
هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي
زه خو یې مجنون ګڼم که نن وي که سبا ( ٢ : ٥٧ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پایله**

کیسه د بشري ټولنې اړتیاده.کیسه هغه څه دي،چې انسان ور سره مخ کیږي،کیسه اوري او کیسي وایي.که فولکلوریکه وي او که تاریخي دا د بشر د ژوند یوه نه بیلیدونکي برخه ده او که څوک وغواړي بیا هم نه شي کولی دا برخه د خپل ژوند څخه لرې کړي.دا،چې د رحمن بابا په دیوان کې ډېرو کیسو ته اشاره شوې ده،نو اړینه وه چې کار پرې وشي او هغه ټولو کیسو ته اشاره وشي چې په دې دیوان کې لیدل کیږي.رحمن بابا د پښتون قوم هغه شاعر دی،چې تل یې د خپلې ټولنې درد په شعر کې رانغاړلی دی او د خپلې ټولنې ناخوالې یې د کیسو په شکل په شعر کې ځای کړې دي.رحمن بابا په خپل دیوان او اشعارو کې ډېرو اسلامي کیسو ته اشاره کړې ده،چې دا ټول د ژوند یوه برخه ده او باید هر لوستی او نا لوستی ترې خبر شي.رحمن بابا د کیسو الهام د قران پاک څخه اخیستی او زیاتره هغو کیسو ته یې اشاره کړې ده چې په قران پاک کې هم ورته اشاره شوې ده،چې ښه بېلګه یې د یعقوب(ع)کیسه،د یوسف (ع) کیسه،د قارون او فرعون کیسه او داسې نورې اسلامي کیسو ته هم په کې زیاتره اشاره شوې ده،چې په دې مقاله کې ټولو کیسو ته پاملرنه شوې او سپړل شوي دي.

**ماخذونه**


۱ - بارکزی،محمد ظاهر.( ۲۰۰۷م). د عبدالرحمن بابا کلیات، پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.
۲ - خلیل،حنیف.(۱۳۸٤ل ).درحمان بابا کلیات،پېښور :دانش خپرندویه ټولنه.
۳ - رفیع،حبیب الله.(۱۳۸۸ ل). رحماني خم،پېښور:دانش خپرندویه ټولنه.
٤ - رفیق،محمدرفیق.(۱۳۹۵ ل).دادبپوهني بنسټونه، جلال کوټ:ختیځ خپرندویه ټولنه .
٥ - زیور،زیورالدین.(۱۳۸۹ ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنی دوره،پېښور:میهن خپرندویه ټولنه.
٦ - شاه ولي.( ۱۳۸۹ ).خوشحال پېژندنه،جلال اباد: سلام خپرندیدویه ټولنه.
۷ - فاضل،نیاز محمد.قصص الانبیاء پښتو ترجمه، پشاور: رحمن ګل پبلیشرز محله جنګي قصه خوانی.
۸ - مومند،سیال.( ۱۹۸۹م). په افغانستان کې مهمې تاریخي پېښې، پیشاور: یونیورسټي اینجنسي.
۹ - هاشمي،سید محی الدین.(۱۳۹٤ ل).د نثري ادب ډولونه،کابل: د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**